# د اطفالو لپاره د واکسینونو ترسره کول

## د والدینو لپاره یو لارښود

دا هغه واکسینونه دي چې ستاسو اطفال ورته اړتیا لري!

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د زېږون پرمهال[1,2] | تور زېړی | RSV-mAb[1]<br>0–7 میاشتې | | | | | | |
| 2 میاشتنۍ[1,2] | تور زېړی<br>1–2 میاشتې[2] | DTaP | PCV | Hib | پولیو | RV | | |
| 4 میاشتنۍ[1,2] | تور زېړی[3] | DTaP | PCV | Hib | پولیو | RV | | |
| 6 میاشتنۍ[1,2] | تور زېړی<br>6–18 میاشتې[2] | DTaP | PCV | Hib[4] | پولیو<br>6–18 میاشتې[2] | RV[5] | انفلوینزا[6] | کوویډ[7] |
| 12 میاشتنۍ او ډېر عمر[1,2] | MMR<br>12–15 میاشتې[2] | DTaP<br>15–18 میاشتې[2] | PCV<br>12–15 میاشتې[2] | Hib<br>12–15 میاشتې[2] | میانه<br>12–15 میاشتې[2] | ژېړ زېړی[8]<br>12–23 میاشتې[2] | انفلوینزا[6] | |

له خپل ډاکټر یا نرس سره وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم ټول واکسینونه په خپل وخت ترلاسه کوي. ډېری وختونه واکسین ګډ او په ترکیبي بڼه کېږي ترڅو د ستنو شمېر راکم شي. د خپل ماشوم د واکسینو کارت غوښتنه هرو مرو وکړئ چې د شوي واکسینونو نېټې پکې لیکل شوي وي؛ دا هر ملاقات ته د ځان سره راوړئ.

دلته د ناروغیو یو لیست دی چې د واکسینو په پایله کې به یې پروړاندې ستاسو ماشوم خوندي وي:

**تور زېړی:** تور زېړی، د ځیګر جدي ناروغۍ

**DTaP:** دیفتیریا، تیتانوس (د جامې کلکېدل)، او پیرتوسس (تور ټوخی)

**PCV:** د سینه بغل واکسین د وینې، سږو، او د مغز شدید عفونیت پر وړاندې خوندیتوب وړاندې کوي

**Hib:** *هایموفیلس انفلوینزا* نوع بي، د مغز، ستوني، او د وینې شدید عفونیت

**پولیو:** پولیو یا ګوزن، د شدید ګوزن ناروغۍ

**RSV:** د تنفسي سنسیشیال ویروس، د سږو شدید عفویت

**RV:** د روټاویروس عفونیت، د شدید نس ناستي ناروغي

**انفلوینزا:** د سږو شدید ناروغي

**MMR:** شری، ممپس، او روبیلا

**کوویډ 19:** شدید او خورا ډېره عفوني ناروغي

**ژېړ زېړی:** هېپاټایټس ای، د خیګر شدید ناروغي

**شری:** وارسیلا هم ورته ویل کېږي

**د پورتني جدول په اړه یادښتونه:**

1. د اکتوبر څخه تر مارچ پورې، اطفال د زېږون له عمر څخه تر 7 میاشتنۍ پورې ښایي د RSV وقایوي انټي باډي (RSV-mAb) ته اړتیا ولري که چېرې د RSV واکسین د امېندوارۍ پرمهال ترسره شوي نه وي. ځینې عمر لرونکي اطفال د 8 میاشتنۍ څخه تر 19 میاشتنۍ پورې ښایي RSV-mAb ته د هغوی د دوهم RSV موسم پرمهال اړتیا ولري.
2. دا د عمر هغه حد دی چې دا واکسین باید پکې وشي.
3. ستاسو ماشوم ښایي د کارول شویو واکسین په پام کې نیولو سره، په 4 میاشتنۍ عمر کې د تور زېړي د واکسین یوه دوز ته اړتیا ونه لري. له خپل ډاکټر یا نرس سره وګورئ.
4. ستاسو ماشوم ښایي د کارول شوي واکسینو په پام کې نیولو سره، په 6 میاشتنۍ عمر کې د Hib واکسین یو دوز ته اړتیا ونه لري. له خپل ډاکټر یا نرس سره وګورئ.
5. ستاسو ماشوم ممکن د کارول شوي واکسین په پام کې نیولو سره، په 6 میاشتنۍ عمر کې د RV واکسین یو دوز ته اړتیا ونلري. له خپل ډاکټر یا نرس سره وګورئ.
6. د 6 میاشتو او ډېر عمر لرونکي ټول ماشومان باید د هر کال مني یا ژمي کې د انفلوینزا پروړاندې واکسین شي.
7. د ورکول کېدونکي کوویډ 19 واکسین برانډ په پام کې نیولو سره، ستاسو ماشوم به 2 یا 3 دوزونو ته اړتیا ولري.
8. ستاسو ماشوم به د ژېړ زېړي واکسین 2 دوزونو ته اړتیا ولري، چې لږترلږه د 6 میاشتو مهالني واټن په توپیر سره ورکول کېږي.

Immunize.org

FOR PROFESSIONALS www.immunize.org / FOR THE PUBLIC www.vaccineinformation.org

www.immunize.org/catg.d/p4010-pus.pdf
"Immunizations for Babies - A Guide for Parents"
Item #P4010-pus Pashto (3/12/2025)

Scan for PDF